## Joint Press Release

**یونیسف او دبلیو اچ او د ۷,۸ ملیونو ماشومانو د پولیو پرضد د مصونیت لپاره د افغان حکومت سره مرسته کوي**

**کابل د ۲۰۱۰ د نوامبر7 مه-** د عامی روغتیا وزارت د یونیسف، د روغتیا نړیوال سازمان، او د مدنی ټولني په مرسته د سږ کال د نوامبر له ۷ می تر ۹ می پوری د مصونت د ملی ورځي وروستی پړاو د ۷,۸ ملیونو د پنځو کلونو نه د کم عمر ماشومانو د پولیو پر ضد د مصونیت لپاره پیل کوي.

سږ کال په سر کې د پولیو ۱۹ پیښي ثبت شوي دي چې په تیر کال دغه شمیره ۲۸ ته رسیده چې په سلو کې ۳۲ کموالی راغلی دی. دا وخت زیاتره هیوادونه د پولیو نه پاک کړی شوې دي خو بیا هم په ځلورو هیوادونو کې لکه پاکستان، هند، نائیجریا او افغانستان د پولیو پیښي موندلی کیږي.

په ۲۰۱۰ کال کې په افغانستان کې د مصونیت د ملی ورځي او د مصونیت د سیمه ییزي ورځي په ځلورو پړاوونو کې ترسره شوي چې په ځانګړی توګه د سویلی سیمو لپاره په پام کې نیول شوی وي. په دغه سربیره په دغه پړاو کې ټول ماشومان (6 تر 59 میاشتني پوری) ویتامین Aهم ورکول کیږي. ۷ ملیونو ماشومانو په دغه پړاو کې شامل وي.

د عامې روغتیا سرپرستې وزیرې ثریا دلیل وایی: «د سږ کال د پولیو د پیښي د کمیدو په پام کې نیولو سره زه خپل ټول هیوادوالو څخه غواړم چې د روان کال د مصونیت په ملی ورځي کې برخه واخلی او په ژمی کې ویتامین A د تنفسی ناروغۍ پر وړاندی ډیر موثر دي.»

په افغانستان کې د یونیسیف د استازیتوب سرپرست ګوپال شرما وایی: «د پولیو واکسن او ویتامین A په کارولو سره مونږ کولای شو چې اغیزمنیدونکې ماشومانو ته د یوه ساده روغتیایي په مرسته ځان ورسوو او دا یقینی کوو چې د پولیو ویروس نور لږ چانس لری چې د دغه هیواد ماشومان ناتوان کړي.»

په افغانستان کې د روغتیا نړیوال سازمان، استازی پیتر ګراف وایی: «هغه څه چې مونږ دا مهال له نوري عامي روغتیایي فعالیتونو سره د پولیو په ورک کولو کې په ګډو هلو ځلو کي پیل کوو او لاس ته راورو ډیر په زړه پوری دي. مونږ د پولیو د ورک کولو په تیر پړاو کې خلک د کولمو چینجی د له منځ ورلو سره بلد کړو او اوس مهال ویتامین A خلکو ته ورپیژنو. پولیو د خپلی شبکه، سرچیني، سیاسی ژمنتا، مکانیزم او توانایی سره کولای شی چې په افغانستان کې د نورو روغتیایي ستونزو په له منځ ورلو کې موثر واقع شي او دا کار باید وشي.»

امنیتی او د لاسرسی ستونزي په ځانګری توګه په سویلي سیمو کې د پولیو د پیښی لامل دي. د دغو ستونزو د هوارولو لپاره د عامی روغتیا وزرات د یونیسف او موسساتو په مرسته غواړی چې د عامه پوهونی سره ټولنی ته ځان ورسوي. په دغه کار کې د ټولنی د هڅولو لپاره فعالیتونه او په سیمه ییزه کچه د بانفوذو خلکو، د سپین ږیرو، د ملایانو او د مشرانو سره خبری اتری شامل دي.

د پولیو پر ضد د نړیواله نوښت نه وروسته چې په ۱۹۸۸ کال کې پیل شوه او د عامی روغتیا د نړۍ تر ټولو نه یوه ستر نوښت ده، په روښانه توګه د پولیو پیښي کمی شوی دي. په ۱۹۸۸ کال کې د پولیو ۳۵۰۰۰۰ مثبتي پیښي ثبت شوي وي او په ۲۰۰۹ کال کې د پولیو ۱۶۰۴ مثبتي پیښي لیدل شوي دي. دغه نوښت د حکومتونو، د یونیسف، د روغتیا نړیوال سازمان، د ناروغۍ د کنترول او مخنیوۍ مرکز او روټری انترنشنال په مشرتوب رامنځ ته شوی ده. ډیر مرسته کوونکی هیوادونه او مرستندوی هم د پولیو په ورک کولو کې برخه لري.

**For more information, please contact:**


Ministry of Public Health, Dr Mohammad Taufiq Mashal, Acting Director General Preventive Medicine, mtmashal@yahoo.com ; + 93 708 284 144
UNICEF, Farida Ayari; fayari@unicef.org; +93 (0) 798 50 7110
WHO, Aanchal Khurana; KhuranaA@afg.emro.who.int; + 93 (0) 79 533 9211